شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
(۸) صفحه

حین تعرض تفنگداران شوراي نظار درولسوالي غوربند

معلم حکم قوماندان شوراي نظاراسیر شد

غوربند - ۲٤ دلو :

درگیري شدید میان مجاهدین حزب اسلامي وتفنگداران ادارهٔ ائتلافي درولسوالي غوربند به شدت ادامه دارد .

منابع جهادي از ولسوالي غوربند گزارش میدهند، تفنگداران شوراي نظار دوباربرمنطقه اشترشهر درین ولسوالي تعرض نمودند که درهردو مرتبه باشکست فاحش مواجه گردیده عقب زده شدند .

براساس همین گزارش تعدادي ازافردا شوراي نظار به اسارت مجاهدین درآمده اندکه معلم حکم آمر منطقه واژغرهمراه بادو محافظ وي ازجمله اسراء میباشد .

په تاجکستان کي څلور تنه مسلمان مبارزین په شهادت ورسیدل

دوشنبي دسلواغي ۲۳

په تاجکستان کي دحکومتي قواو اوداسلامي مبارزینو ترمنځ په نښتو کي څلور تنه مسلمانان په شهادت ورسیدل.

دخاور خبري آژانس دتاجکستان دکورنیو دچارو وزارت د مامورینو له قوله ویلي دي چي دوه تنه مسلمانان د جمعي په ورځ د ناپیژندل شویو کسانو له خوا ددغه هیواد په پایتخت دوشنبي کي په قتل رسیدلي اودوه تنه نوردتیري پنجشنبي په ورځ د دوشنبي ښار ختیځ پلو څلویښت کیلومتره لري وژل شوي دي.

شمارهٔ مسلسل (۹۰۲) سال هفدهم - شمارهٔ (۱٤۰) سه شنبه ۲۵ دلو ۱۳۷۳ هـ ش - (۱۵) رمضان المبارک ۱٤۱۵ هـ ق - (۱٤) فبروري ۱۹۹۵ م قیمت (۱۵۰) افغاني (۲ روپیه)

مولوي عبدالرحیم خنجاني په نصرت مینه کي دیوي غونډي په ترځ کي :

دطالبانو غورځنګ په نامه او سني فتنه دجهاد پر خلاف یوه ستره توطئه ده

نصرت مینه - دسلواغي ۲٤ :

په نصرت مینه کي دځوکمپونوزیات شمیر علماو اومشرانونن دهیواددرواتو حالاتوپه باب شانداره غونډه وکړه .

دشهادت خبریال له پیښورنه خبرراکوي چي دقرآن عظیم الشان دځومبارکو آیاتوپه تلاوت پیل شوه، دقیس (رض) دلیسي مدیر مولوي عبدالواسع دروانو حالاتوپه باب خبري وکړي اودطالبانوپه نامه روانه فتنه ئي وغندله .

ده دخپلو خبروپه یوه برخه کي وویل چي نړیوال کفر غواړي افغانستان تجزیه کړي له همدي امله دطالبانوپه نامه غورځنګ رامنځته شوي دي. موږبایدددوي په مقابل کي خپل ایماني وظیفه سرته ورسوو او خپل پریکنده دریځ څرګندکړو .

وروسته جګتورن خان محمد دطالبانو په نامه راولاړشوي فتنه وغندله اودهغي په باب یې حاضرینوته مفصل معلومات ورکړل .

بیامولوي صاحب بزرګ ،دحزب اسلامي دښوونځي اوروزني رئیس قاضي محمودالحسن ،مولوي عبدالواجد صاحب

(۷)مخ

به اثر انفجار پایگاه راکت هاي شوروي سابق

(۱۵۰) عسکر روسي درگروژني کشته وبیش از (۲۰) زرهپوش آنها منهدم گردید

گروژني - ۲٤ دلو :

ازشب یکشنبه به اینطرف آرامش نسبي درچیچن برقراربوده ولي مدافعان چیچن و نیروهاي روسي هردو درکشورخودمختارچیچن درحال مستحکم ساختن مواضع خود علیه یکدیگرمیباشند.

خبرگزاري جمهوري اسلامي ازقول یك منبع آگاه درجمهوري انگوش گزارش داده است که نیروهاي مسلح ومردمي حکومت خودمختارچیچن ونیروهاي روسي سرگرم موضع گرفتن دراطراف شهرآرگون واقع درپانزده کیلومتري شرق گروژني هستند که امکان درگیري شدید درین منطقه میرود .

گزارش رویتر حاکیست فرمانده نیروهاي مدافع چیچن به اثر پیشنهاد معاون ریاست جمهوري انگوش آماده گي خودرا براي گفتگوجهت آتش بس

ص (۷)

دافغانستان ددیني طالبانو تنظیم اعلامیه

(۸)مخ

عناصر کمونیست درسازماندهي، سوق و اداره گروه نامنهاد طالبان نقش فعال دارند

پشاور - ۲٤ دلو :

عناصرکمونیست و افسران رژیم هاي ملحد قبلي ازفتنه اي که اخیراً بنام طالبان برپاشده حمایت وپشتیباني نموده برخي ازآنها در پست هاي رهبري این فتنه توظیف شده اند .

شاهدان عیني که اخیراً از ولایت قندهار وکویته به پشاور برگشته اند، میگویند آنها تعدادي از صاحب منصبان وعناصرکمونیست رژیم نجیب را مشاهده نموده اندکه دریست هاي حساس این تحریك ایفاي وظیفه مینمایند . براساس همین گزارش درعقب اسلحه ثقیله متجمله توپ، راکت وتانك ها افسران کمونیست که درطول جهاد علیه مجاهدین جنگیده اند قرارداشته و درطرح عملیات جنگي این گروه نیز نقش اساسي دارند .

شاهدان عیني درمورد مصارف این گروه نیز شگفت زده شده میگویند پرداخت چنین مصارف هنگفت ازتوان یك کشور فقیر خارج بوده به احتمال قوي یك یاچند کشورثروتمند مصارف آنهارا مي پردازند .

شاهدان یادشده که به دلایل امنیتي از افشاي اسماي خود خودداري کرده اند میگویند افسران کمونیست درمیدان هوایي قندهاربیشتر ازسایر بخش هاي دیگر بوده زیرا بقول آنها درمیان طالبان افرادي که درامور هوایي مهارت داشته باشد وجود ندارد .

درسازماندهي و اداره این گروه علاوه برکمونیست ها واعضاي گروه منحله وطن تعدادي ازعناصر بیگانه وخارجي نیز شرکت دارند .

درگیري میان نیروهاي طرفدارو مخالف رژیم الجزایر چندین کشته برجاگذاشت .

الجزیره - ۲۳ دلو :

به اثردرگیري بین مبارزین مسلمان ونیروهاي دولتي درالجزایر به تعداد هژده نفر کشته شده اند .

رادیوي دولتي الجزایر گزارش داد ازروزچهارشنبه به اینطرف ۱٤ نفر ازمبارزین مسلمان دردرگیري هاي متعدد بین مبارزین مسلمان ونیروهاي دولتي کشته شده اند .

گزارش دیگري از رویتر حاکیست درگیري که بین مسلمانان مبارزالجزایري ونیروهاي دولتي درشرق الجزایر رخ داد به تعداد چهارنفر ازنیروهاي دولتي کشته شده اند. درگزارش دیگري آمده است مسلمانان مبارزالجزایري یك معلمه تبعهٔ فرانسه را روزیکشنبه درالجزیره به قتل رساندند .

همچنان گروهاي الجزایري امضاءکننده

ص(۷)

ولایت لوگر تحت کنترول مجاهدین حزب اسلامي افغانستان است

پل علم - ۲٤ دلو :

گزارش هاي رسیده ازولایت لوگر حاکیست که مجاهدین حزب اسلامي برین ولایت کنترول داشته واوضاع را تحت نظارت خود دارند .

براساس همین گزارش شایعاتي که از طریق برخي رسانه هاي خبري مبني بر تسلط گروه طالبان برولایت لوگر پخش شده کاملاً بي اساس وعاري ازحقیقت است . شاهداني که اخیراً ازپل علم وبرخي ولسوالي هاي این ولایت دیدار نموده تائید نموده اندکه گروه موسوم به طالبان برین ولایت کنترول نداشته ومنطقه تحت تسلط نیروهاي حزب اسلامي است .

درگزارش گفته شده تحرکات گروه طالبان بخاطر تخریب تلاش هاي صلحجویانه هیئت سازمان ملل بوده ودرعقب این حرکت عناصر کمونیست رژیم هاي گذشته و قدرت هاي غربي قراردارند که نمیخواهند درافغانستان حکومت اسلامي استقراریابد .

گزارش مي افزاید استاده ي که ارتباط این گروه را به خارجیان ثابت مي سازد عنقریب درمعرض دیدجهانیان قرارخواهد گرفت .

مولوي جلال الدین "حقاني" دامریکا غږرادیو سره په مرکه کي :

دطالبانو حرکت دملګرو ملتونو دکوښښونو عملي کولوته دلاري هوارولو په خاطر منځ ته راغلي دي

دسلواغي ۲۳

جلال الدین "حقاني " دامریکا ږغ سره دیوي مرکي په ترځ کي وویل ملګروملتونه کوشش کوي چي په افغانستان کي سوله راولي خو په هیواد کي هغه وخت سوله ټینګیدي شي چي ټول ملت ته دمنلو وړیو حکومت جوړشي ، لاري خلاصي شي اوجګړه بنده شي .

مولوي جلال الدین حقاني د طالبانو حرکت ته داشاري په کولو سره وویل : چي د طالبانو حرکت دملګروملتونو دکوششونو برخلاف نه بلکهٔ دهغي له پاره لاره هواروي اوکوم میکانیزم چي جوړیږي دهغي له پاره دملت یومنظم ملا تړ ته ضرورت دي اودادهغه ضرورت پوره کوي .

(۷)مخ

دایران د اسلامي انقلاب شپاړلسمه کلیزه ولمانځل شوه

تهران - ۲۳ دلو :

دتهران راډیو دخبرله مخي دنړي په مختلفوهیوادونوکي میشته زیات شمیر ایرانیانوپه دي مراسموکي په ګډون سره داسلامي انقلاب دبریالیتوب شپاړلسمي کلیـزه اودفجر اوسپاون مبارکي لسیزي ورځي ولمانځلي .

دفترنمایندگي جنبش ملي دراسلام آباد اعلام داشت که :

جنبش ملی اجازهٔ حمله به مواضع شورای هماهنگی را نخواهد داد

ص (۷)

دطالبانو دتش په نامه دلګي یوه پخواني غړي مولوي عمرګل ددي دلي په هکله :

طالبان اصلاً بهرني ایجنټان دي

دسلواغي ۲٤ :

دطالبانو دتحریك یوپخواني غړي مولوي عمرګل حنیفي په یوبیان کي چي دپاکستان دوحدت ورځپاڼي له لاري خپورشوي ویلي دي چي زه طالبانوسره په خپله ملګرتیاپښیمان یم دي ویلي کله چي دطالبانو تحریك په کندهارکي پیل شوماهم له دوي سره عملیاتوکي برخه واخیسته خوهلته مالیدل چي طالبانو بې دمحاکمي نه قوماندانان اومجاهدین وژل خوکله چي ماله دوي څخه پوښتنه وکړه چي داکار ولي کوي نوهغوي راته وویل چي موږ ته دپاس نه داامرشوي دي .

ده وویل چي طالبانوته دکوټې نه وسلي راتلي نوزه دیوعالم اوافغان په صفت وایم چي داطالبان اصلاً خارجي ایجنټان دي نوځکه هیڅ افغان باید په دي تحریك کي شامل نشي .

یك افسرپولیس درجنوب قاهره کشته شد

قاهره - ۲٤ دلو :

یك افسر پولیس مصر درجنوب قاهره ازطرف مبارزین مسلمان به قتل رسید .

به گزارش رویتر یك منبع پولیس مصرگفته است کـه علي رشدي عبدالستار بعدازآن توسط مبارزین مسلمان درقریه اي درولایت مینا واقع در ۲٦۰ کیلومتري جنوب قاهره کشته شد که وي طي تهاجمي بریك خانه چهارتن ازمبارزین مسلمان را درهمین قریه به قتل رسانده بود . درین عملیات یك دخترهفده ساله نیز به اثر آتشباري افراد پولیس کشته شده بود .

ازچندي به اینطرف درگیري هاي بین پولیس ومبارزین مسلمان درولایت مینا شدت گرفته و طي یك ماه گذشته ٦٤ نفر کشته شده است .

دکطالبانو وياند :

یوائې د حزب اسلامي قوماندانان له موږ سره جنګیږي

د نوروتنظیمونو قوماندانان په خپله ، وسلي موږ ته تسلیموي

دسلواغي ۲۳ نیته :

دطالبانو یوکس دملاداود په نامه دبي،بي ، سي راډیو سره دیوي مرکي په ترځ کي اعتراف وکړ چي ددوي دحرکت نـه دتائید پـه خاطرمولوي محمدیونس خالـص ، مولوي محمدنبي محمدي، اوسیاف خـپل استازي کندهارته ورلیږلي دي .

ده وویل چي ددوي نمایندګان چي موږته راغلي و نو هغوي دطالبانو دپاخون آواز اوریدلي و اودوي وایي چي په افغانستان کي که امنیت راولي نوهمداکسان به ئې راولي .

ده ددي پوښتني په ځواب کي چي اسمعیل خان هم دځان له پاره حکومت جوړکړي نودهغه سره تاسوڅه کوي وویل : چـي زموږنه کوم تښتیدلي کسان هغه ته ورغلي ونوموږ دهغوي

(۸)مخ

دربرگهاي این شماره

صفحه دوم
* د طالبانو تش په نامه تحریك دحزب اسلامي پر ضد لویه دسیسه ده
* آرزوي دشمنان اسلام واجیرانشان درافغانستان
* خیلواکي ګټل ګران ، خوساتل یې له هغه ګران دي
صفحه سوم
* " هرجامه سفید ملا نیست "
* په اسلام کي د ښځو حقوق
صفحه چارم
* فضیلت دهه اخیر رمضان
* د اسلام د ارکانو د دعوت ترتیب اوتدریج
* فقه رمضان
* از چهار گوشه جهان
صفحه پنجم
* سیرة النبي
* حق تحفظ معاش در اسلام
* افغانستان که دغمونو زیږنتون
* د روژي برکات
صفحه ششم
* حق پیروز است وباطل زاهق
* آدم مؤدب (طنز)
* دنړي په ماشومانو څه تیریږي
صفحه هفتم
* خواږه ترخه

بنام خداوند بی اندازه مهربان ونهایت بارحم است

سرمقاله

طرح ریزي آخرین توطئه استکبار :

بخاطرتضعیف حزب اسلامي میباشد

ازهمان سپیده دم تشکیل نهضت اسلامي درکشور، قوت هاي کفرواستبداد به تباني نیروهاي شروفساد درصدد آنند تااین نهضت جوان وناب اسلامي را که درطي بیست وهفت سال مبارزه وجهاد به اوج نیرومندي وقوت خود رسیده واکنون بصورت بالقوه این توان رادارد که درافغانستان تشکیل حکومت بدهدوبراي گسترش دعوت اسلامي درسراسر دنیا ، قوت قلب وبازوي توانایي براي تمامي تحریك هاي اسلامي باشد، سرکوب نماید .

رژیم هاي سلطنتي ظاهر - داود باتمام قوا براي نابودي حزب اسلامي ورهبریت آن تلاش کردند ،چنانچه از گرفتن وبستن وزندان وشکنجه گرفته تاکشتن وبدارآویختن اعضاي فعال این حزب دریغ نکردند . تمامي تبلیغات رژیم هاي کمونیست پس از فاجعه ثور متوجه حزب اسلامي وقیادت آن بود، کساني که درآنوقت تبلیغات رادیوکابل ، رادیوي ماسکو ورادیو تاشکند را تعقیب مي کردند، چنان درك مي کردند که علیه رژیم مرتد کابل فقط حزب اسلامي مبارزه مي کند ودیگرکدام گروه مخالفي وجودندارد . بموازات حملات تند تبلیغاتي، رژیم هاي کمونیست به مشوره باداران روسي شان بیشتر سرمایه گذاري را دربعدنظامي وجاسوسي درجهت تخریب ومقابله رودررو علیه مجاهدین حزب اسلامي میکردند ودیگران رابابحساب نمي گرفتندو باازراه سازش ومذاکره خاموش شان نگهمیداشت .

درطول سالهاي جهاد غرب سعي داشت تابنام کومك وهمدردي بامهاجرین افغانستان ،نهضت اسلامي رابه انحراف بکشاند وباتطمیع یکعده عناصر وگروههاي ضعیف النفس ،کپ قهرماني مبني برشکست قشون سرخ و مزدوران شان را نصیب خود نماید، اماحزب اسلامي باقاطعیت وهوشیاري نگذاشت که افتخارات عظیم جهادوفداکاري مجاهدین بهدر برود ودشمنان روي آن معامله گري نمایند .

پس ازسقوط رژیم کمونیست و ورود مجاهدین به کابل، بازهم دشمن براي ضربه زدن حزب اسلامي ، ائتلافي نامقدس رابراي ازصحنه کشیدن حزب اسلامي میان گروههابیان آورد. عواقب شوم همان ائتلاف است که افغانستان مدت دوسال ونه ماه درآتش جنگهاي داخلي مي سوزد . دشمن باتلاش هاي پیگیرودسایس رنگارنگ خود سعي نمودتا ائتلاف را دربرابر مجاهدین تقویه نماید وباتضعیف حزب اسلامي ، حکومت دلخواه خودرا در افغانستان تشکیل نماید . مگر مقاومت وایستادگي حزب اسلامي دربرابر همه این توطئه هاودسایس موجب شد که دشمنان به هدف شان نائل نشوند .

بعدازآنکه محافل استعماري شانس شان را ازهرراهي در تضعیف حزب اسلامي آزمودند وناکام شدند، آخرالامر بااستفاده ازتجربه استعمار

ص (۸)

سخن روز

د روحاني تقدس ژوبلول يوه ستره تاريخي گناه ده

ياسر

دافغانستان جهاد د تاريخ هغه خارق العاده پيښه وه ، چي دگردي نړي مسيرېي بر بل مخ واړاوه

افغانان او گرد اسلامي امت پدي پوه ؤ ، چي پدغي تاريخ جوړوونکي پاڅون کي داسلامي پوهانواوعلماؤ اغيزمنې د پام وړوه ،اوحق دلاري نه تسليميدونکو عالمانو پخپلوغوڅو فتواوتوڵ مسلمانان ددغي جهاد شاته ودرول .اوله دي به هم هيڅوک سترگي پټي نه کړي ، چي دغه جهاد ترڅلورومېي دافغانستان داسلامي تحريك له خوا پيل اودغه حرکت تر هرچا دمخه ددغي خوځښت دشاځلمو په وينو خروب شو، دمجيب له نسکوريدو راتيولي بيا د ائتلافي رژيم تر څو ځلي سرغړاوي اوقديد پوري د ديني مدارسو داسي مشخص تنظيم چي هم دي مستقلي وسلي ولري ،او هم دي خپلواکه تبارزوكړي ، موجود نه و ،خوولي موږ وليدل ، چي دهيواد دجنوب لويديځ له خوا ناڅاپه دداسي يوغورځنگ سرراپورته کول هرچا ته ددي روحيه ورکوي ، چي بايد پدي باب فکرمن اواندېښمن شي د افغانستان پرجنگ زيلي هيواد يوځل بيا له سره جنگ مسلط کول هغه تراژيدي ده،چي ريښتي يي له ډير ليري نه راغځيدلي ښکاري.تر دي چي د ډيرو ديني علماو په خوله دطالبانو په نامه داسي پيښي را پورته کول په افغانستان کي دهغه روحاني تقدس ژوبلول دي ، چي پيري ،پيري يي دغي ايماندار ولس ته تشخص متفق عليه اومنلي پاتي شويدي .او که په ريښتيا هم دغه دطالبانو په نامه حرکت عقيدتمندانه توجيه كړو ، نو دوي بايد له افغانانو سره دمرستي لپاره له هرڅه مخکي ځان کابل ته رسولي وي ، اوهلته يي له نورو سره يوځاي دائتلافي رژيم دهغي فتني بيخ کتي کړي وي ، چي د اسلامي حکومت له چيلنج نه بياتر هرقتل وغارت پوري گرد مسؤوليت يي پر غاړه د ي، خو برخلاف دوي ډيره اوږده لاره خپله کړه ،او ددي پر ځاي چي دافغانستان دزوريدلي ولس ستونزي كمي کړي ،په ډيرجرئت يي جنگ له "الفه " پيل اوتر "ياي "رسول غواړي ،چي پدي صورت کي به هيڅوک هم ددوي دغه تگلاره تائيد نه کړي ، بلکي دائتلافي رژيم غوندي به يي پرافغانستان ديوي بلي غميزي زياتونه وگڼي اوبس . په ولاياتوکي دطالبانو جنگ ته جواز ورکول هيڅ فرهنگ ځکه نشي منلي ، چي روان مشکلات ټول دمرکز له خواوو، تردي هرولايت نيمه استقلال لري ،او بله دا چي دريږواوفتنوزيږوونکي هم ائتلافيون وو، چي نيغ په نيغه دکمونيستانو له خوا رهبري کيږي ،نو په ولاياتوکي جنگ او ريښتي توپولو دافغانستان مجاهد ولس لايسي شکمن او كرکجن كړ. په همدي دول د نوروممجاهدينو ترڅنگ له حزب اسلامي سره جنگ كول بلا جوازه او غيرقانوني ځکه ښکاري ،چي حزب اسلامي پخپله داسلامي حکومت دتحقق لپاره په هلو ځلو دي ، نو که چيري حزب دائتلاف پرځاي په سياسي قدرت کي وي ، بيا داسي دليل تراشي کيدلي شوه ، خو روان وضعيت هيڅکله د دادول خون خرابي اجازه نه ورکوي . همداسي طالبانو د خپل داسي يوه غږ داوچتولو لپاره نوري ډيري متبادلي لاري لري ،اوکولي يي شول ،له هر ډول قتل وقتال پرته پري خپل روا هدف ته رسيدلي وي . اوس نو پداسي حال کي چي افغانان دملگروملتونو داستاځي دسياسي ميکانيزم اعلان ته سترگي پر لارو، طالبانو بايد د پيش قدمي پر ځاي توقف خپل کړي ، او پريښي وي ، چي مستيري دمؤقت حکومت نمايندگان مشخص کړي وي بيا به نو ځرگنده شوي وي ، چي څوك يي مني اوڅوك يي نه ، وړخواك دي اوکه پرڅوك . آيا سوله ائتلاف نه مني او كه دهماهنگي عالي شورا ؟ له داسي يوه چلند وروسته به د طالبانو دغي مبهم اومغشوش حرکت دافغانانو بدگوماني نه راپارولي ، او نه به يي ددوي دغورځنگ تقدس شكمن كولي .

دملگروملتونو استاځي له طالبانو سره په همدغي وخت کي خپله کتنه اعلان اودخپلي تگلاري په باب يي ترې داډ لاره ، خوبيو ناڅاپه دطالبانو دميدان خواته په نژدي کيدلومستيري دخپل ميکانيزم له ځرگندولونه منصرف کړ ، او پر جنگ سرپيره افغانانو ددغي پروسي د ځنډپه باب طالبان دائتلافي رژيم بل ښکر وياله . رښتيا هم داسي ښکاري ،چي طالبان دائتلافي رژيم لپاره اوبه خړوي ، چي دنورو ماهيانو نيولو فرصت په لاس ورشي ،او که داسي نه وي ،نو بيا كومو عواملو دوي دومره چټك كړل ، چي دملگروملتونو د سولي اوانتقال دنوښتونو تاييد هم کوي ،خو پولځوښيي ورته جنگ نشي ودرولي ، بله دا چي طالبان بايد پدي پوه شي ، چي نړيوال كفر دامريكا په سردمداري داسلام هرقشراوډله په يوه نه يوه بهانه بدناموول غواړي ، په اسلامي تحريکونو پسي خوبي دبنياد پالني په نامه الزامونه راايستلي ، نو ليري نه ده ، چي دنړي او اسلامي هيوادونو ترمخ اسلامي روښنفکران پداسي غيرمسؤولانه چلندونو بدنام كړي، لكه دغه يي هدفه اوبيكار جنگ يي چي زموږ دمقدس دين پداسي سپيڅلي نامه پيل كړ ، چي سمبوليك ارزښت لري ،دالحومره دشرم وړخبره ده ،چي په افغانستان كي دديني طلبه و په نامه خلك له مجاهدينو سره جنگيږي ،نو څه فكر كوو ، چي دابه دلويديځ ښكيلاك هغه حربه نه وي ، چي نړيوالو ته اسلامي اهداف اواقدارلاس وگريوان اوضد ونقيض ,و روپيژني ،اوهغه كار چي د پرمخ تللي تكنالوژي په وسيله يي لاس ته نشي راوړي ، يعني دمسلمانانو ايليدل جنگجو او يي هدفه معرفي كول يي ، په ډيره كمه بيه ورته موږ پخپله ځمكه هواروو. افغانان پوهيږي ،چي طالبان اوبيا په ځانگړي ډول ديني زده كوونكو ترڅلورومېي دافغانستان له اسلامي تحريك سره تعهد لاره ،اواوس هم په بيلابيلوجهادي تنظيمونو كي له خپل ټول تقدس سره حضور لري ،خو دغه روانه فتنه چي غواړي گردجهادي صلاحيتونه ، اقتدار اوحماسي دسيلاب غوندي په مخه كړي ، بي له شكه يوه بهرني دسيسه اونيغ په نيغه لاسوهنه ده ، او كه دنړي سياسي مسير اوبهير ته وگورو ،اوبيا د يوه مسلمان په توگه له ځان سره حساب وكړو، نو دومره هر څوك پوهيږي ، چي دنړيوالو كفري ځواكونواو شيطاني شبكو ځواك خوښ ندي ،دچا په تباهي پسي يي ملاتړلي ، دافغانستان په جهاد كي له گهون كوونكو عربو سره څه وشول ، همدغه ځاي دي ، چي مسئله روښانه كوي ، او په همدغي هينداره كي له وراية داسلام دوستان اودښمنان بربنډ ښكاري.

د طالبانو تش په نامه تحريک دحزب اسلامي پرضد

لويه دسيسه ده

استاد قريب الرحمن "سعيد"

د طالبانو تحريك يوه ستره دسيسه ده چي دحزب په خلاف راپورته شوي اوهدف يي هم همدادي چي حزب دمينځ نه وباسي كوم قوتونه چي دحزب اسلامي پرخلاف جنگيږي دا نه طالبان دي او نه ملايان بلكي دا د هغه شوم پروگرام يوه برخه ده چي انگريزان امريكائيان اودافغانستان ځيني گاونډيان يي په شريكه پرمخ بيايي دافسوس ځاي دادي چي ځيني ديني طبقي اوبااحساسه خلك دي كښي استعماليږي داسازش د دي د پاره دي چي د افغانستان اسلامي نهضت ته چي پنځه ويشت كلن تاريخ لري ضرر ورسوي په دي نهضت كښي .اسلامي ځواكونه چي طلبا، او عالمان هم پكښي شامل دي هميش د ملحدانو خلاف په اول صف كښي جنگيدلي اود طالبانو اوعالمانو نه دا توقع هم نه كيږي چي د حزب دهمغومجاهدينو پرخلاف چي ځوارلس كاله يي د روسي پوځيانو په مقابل كښي خپله سينه سپركړي ده او يونيم مليون شهيدان يي وركړي دي راپورته شي او ورسره وجنگيږي

طالبانو په روان تحريك كښي نه عالم شته نه طالب كه چري پكښي وي هم نوهغه به غوليدلي وي .

غرب غواړي چي په افغانستان كښي يو داسي حكومت منځ ته راشي چي په نوم مسلمان وي خو داسلام دسياسي نظام د پاره هيڅ كاونه كړاي شي. چي مثالونه يي په نورو اسلامي هيوادونو كښي ليدل كيږي .

كه چيري د ملگروملتو ددي پروگرام د عملي كولو دپاره دطالبانو دپاك نوم نه كاراخستل شي نو دا به دافغانستان د اولس اودجهاد دپاره لويه ضايعه وي غرب غواړي چي افغانستان كښي يوداسي حكومت قايم‌شي چي فكري بنياد ولري په

همدي خاطري شمال كښي دجبل السراج ائتلاف جوړ كړو چي اساس يي په سمتي اوژبني تعصباتو بناء وو ترڅو افغانستان كښي داسلامي حكومت مخه ونيول شي اودروسانو نه مجاهدينو ته په لاس ورغلي وسلي ضايع شي چي ورسره په تاجكستان ،ازبكستان ، تركمنستان دقزاقستان ،اونورو اسلامي هيوادونو كښي ترېنه كار وانه خستل شي او اسلامي تحريكونه راپورته نه شي . ملگري ملتونه د پخوا نه پدي هڅه كښي د ي چي افغانستان كښي وسلي ختمي او دلته تش په نوم اسلامي حكومت منځ ته راشي دحزب اسلامي مجاهد امير انجنير حكمتيار د غربيانو اومتحده ملگرو ملتو هلي ځلي شنډي كړي اوبلي وو چي افغانستان يو اسلامي ملك دي چي اسلام به پكښي حاكم وي پدي اساس د امريكايانو اوغربيانو ددي سخت مخالفت كولو اوغوښتل يي او داېي ارزو ده چي دحكمتيار غوندي مفكر عالم اسلام اودحزب اسلامي په شان يو منظم تنظيم چي دفكري خلقو نه جوړدي په اقتدار رانه شي . خپل دي هدف ته درسيدو دپاره داسلام دښمنانو د دي سازش نه كار واخستلو او ددي ترشاچي كوم لاسونه دي خلك به وروسته په هغي پوه شي . كه څوك دافكر كوي چي افغانستان

كښي به حزب اسلامي ختم كړي دا به دهغوي يوه لويه اشتباه وي ځكه چي حزب اسلامي يو داسي ملي تنظيم دي چي په ټول ملت كښي ژوري جرړي لري موږ غواړو چي وسله ټوله شي او يو اسلامي حكومت منځ ته راشي . اوافغانستان كښي موجود تنظيمونه د سياسي گوندونو په حيث كار وكړي . خو غربي نړي په دي ويره كښي ده چي هسي نه افغانستان كښي اسلامي حكومت مينځ ته راشي زموږ ارزوداوه او اوس هم ده چي زموږ دعالمانو اوطالبانو طبقه به په كابل كښي ديواسلامي حكومت د جوړښت دپاره كاروكړي هلته به د كمونستانو نه اقتدار واخلي اودحزب او جمعيت اسلامي ترمنځ به دصلحي او ورورولي درامنځ ته كولو كوشش وكړي نه داچي د حزب اسلامي دنظامي قرارگاوو په نيولو هڅه كوي دي سره صرف د اسلام دښمنانو ته گټه ورسيږي نه بل هيچا ته . داسلام دښمنان په دي ډير خوشحاليږي چي نن د حزب اسلامي دسترو مجاهدينو اود طالبانو ترنامه لاندي كوم با احساس كسان چي د پردېو دلاسوالي گرځيدلي د هغوي ترمنځ جنگ ته نور هم شدت وركړي كوم چي د ډيرافسوس ځاي دي . دطالبانو دتحريك بااحساسه خلك چي كله په حقيقت پوه شي

هغوي به پخپله ددي تحريك د واكدارانو په خلاف پورته كيږي چي زموږ ارزو داده كوم با احساسه خلك چي دطالبانو تر نامه لاندي په دي غورځنگ كښي دي بايد حقيقت درك كړي . ځكه چي د حزب اسلامي پر خلاف زموږ تبليغات اودهغوي

پر خلاف فتوي صادرول د با احساسه طالبانو خپل سپكاوي دي . كه چيري طالبان كابل ته تگ غواړي اود حزب سپكاوي پسي نه گرځي اود پردو تحريك

نه وي . نو دميدان ښار دلاري نه دي لاړشي كومه چي دكابل دروازه ده نو چهار آسياب ته دتللوتوقع ولي كوي ؟ .

كه چيري دطالبانو دتحريك هدف كابل ته ، چهار آسياب وي موږ به تراخره پوري د خپلو سنگرونو نه دفاع كوو.

دي طالبانو كښي داسي كسان دي چي پيلوټان - ټانكستان دي اودرني وسلي استعمالولي شي شته كوم چي عامو طالبانو كښي نه وي . نو له دي نه دا ځرگنديږي چي ددي تش په نامه طالبانو دتحريك ترشا دخارجيانو لاس دي .

موږ په خوا هم داخبره كړي چي دلته په پيښوراوكوټه كي دافغانستان د پوځ راتښتيدلي صاحب منصبانودجلب

په خاطر دفترونه جوړ شوي ؤكار روان ؤ ترڅو پخواني صاحب منصبان جلب كړي اودي كار ته يي دملگروملتونو ترنامه لاندي ځاي وركړي ؤ. كه څه هم ملگرو ملتو دا خبره وروسته مسترد كړه خودهغو خلكودجلبولواودمعاش دوركولو پروگرام روان ؤ.

موږ مؤثق اطلاع لروچي همدغه پخواني كمونست جنرالان د پرديو په معاشونو باندي ددي حركت ترڅنگ ولاړدي ، ددوي توپچي ، د دوي ټانكونه ،ددوي الوتكي ،ددوي BM.41 ووله مزايل او ددوي نورټول ستراتيژيكو وسايلو داستعمالوطريقه دهمدي تجربه كاروخلكو له خوا ښودله ،كيږي .

په دي كي ځيني بااحساسه اومسلمان طالبان اوعلما چي هغوي اصلاً حقيقت ته دي درك كړي اوديپاك ايماني احساس په اساس تللي ، هغوي صرف استعماليږي .

موږ په دي مطمين يو چي زموږ مسلمان طالبان وورنه به داحقيقت درك كړي وي .

په هر صورت موږ خپل ولس ته دا وايو چي كه په افغانستان كي حزب اسلامي افغانستان اوهماهنگي عالي شورا دنورو اسلامي تنظيمونو په گډون ديرديواواجنبي عناصرو دغه تحريك اولاس وهنه شنډه نكړي په دي مطمئين يو چي په افغانستان كي به هم د اسلامي حكومت په جوړښت لكه په تاجكستان كي داسلامي حكومت دجوړښت دحزب په شان تعبير شي .

آرزوی دشمنان اسلام واجيران شان درافغانستان

محمد رحيم

جهادملت مسلمان افغانستان درمقابله عليه مكتب الحادي كمونيزم كه سرانجام باعث سقوط رژيم كمونستي درافغانستان وسقوط بين المللي كمونيزم درجهان گرديد بدون شك يك واقعه مهم وحماسه بي مانند درقرن معاصربشمارميرود كه درنتيجه آن وضع سياسي وجغرافيايي جهان برهم خورد وازدو بلاك استعماري كه دردوسازمان نظامي بين المللي بنام هاي ناتووارسا خلاصه مي شدند بلاك مربوط به سازمان اخيرالذكرمنحل وجهان بنابربرداشت نادرست غرب به سردمداري امريكا بسوي يك قطبي شدن درحركت افتيدكه برداشت بس نادرست ونامعقولي است ودرحقيقت درجهان بجاي كمونيزم اسلام وجهاد اسلامي منحيث يك نيروي عمده به سطح بين المللي تبارزكرد وهوشداري بود براي استعمارخونخوارغرب كه همان طوري كه ملت مسلمان افغانستان درنتيجه جهاد شان ابرقدرت وحشي شرق رابه ذلت وشكست كامل سياسي ونظامي دچارساختند ان شاء الله امت مسلمه باالهام ازجهاد افغانستان ميتوانند درگوشه ، گوشه جهان عليه استعمار ،ظلم وبيداد گري هاي غربي ها نيز برخيزند وسرنوشتي رانصيب غرب سازندكه به استعمارجهان خواررروس تحويل داده اند .

به همين منظور پس ازسقوط كمونيزم باآنكه درعرصه سياسي امريكا خودرا به سطح بين المللي يكه تاز ميشمارد وتحت نام وعنوان نظام نوين جهاني درفكر تحقق اهداف استعماري اش ميباشد وميخواهد چرخش همه حركت هاي سياسي ونظامي ،فرهنگي واقتصادي به سطح بين المللي برمحورغرب ودرراس آنها امريكاباشد. اماآكنون سردمداران غرب آهسته آهسته بخود ميآيند كه غيرازآنهاقوت ديگري نيز درجهان وجود داردكه عبارت ازاسلام ومسلمانان است كه خطرجدي وبالاقوه اي دربرابر آنهابحساب ميرود وميتواند منافع آنهاراعملاً به مخاطره بياندازد به همين جهت باتمام قوت وامكانات وارد عمل شده اند ودرهرگوشه جهان مبارزه همه گيرراعليه مسلمانان تحت نام وعنوان مبارزه بابنيادگرايي اسلامي ومبارزه باتروريزم براه انداخته اند تادرنتيجه جنبش هاوخيزش هاي اسلامي راسركوب نموده خطري راكه جلوتحقق اهداف استعماري شان احساس مي كند ازبين بردارند .

درهمين راستا زمانيكه مجاهدين افغانستان ازلحاظ نظامي درشرايطي قرارگرفتندكه سقوط رژيم كمونستي حتمي به نظرميرسد استعمارغرب وميراث خوار استعمار شرق يعني

روسيه دريك پروژه مشترك تطبيق پلان جلوگيري ازتاسيس حكومت اسلامي راروي دست گرفتند وباتسلط ساختن ائتلاف به زمام اموردرافغانستان وبه تعقيب آن منتقل ساختن جنگ هاي تحميلي ازطريق همين اداره بدنام عملاً آنچه راكه ميخواستند بدست آوردند بدين معني كه ازرسيدن مجاهدين به قدرت وتاسيس نظام اسلامي درافغانستان جلوگيري كردند . امااستعمارگران به اين هم اكتفانكردند. جنگ خانمان سوزي رامشتعل و باحمايت كامل نظامي واقتصادي خود ازائتلاف آن راچنان دوامدار ساختند كه ازيكطرف باعث ايجاد حس نفرت وانزجارمردم مادرنتيجه اعمال نارواي ائتلافيون مجاهدغانسبت به مجاهدين گرديدند وازطرفي باعث بربادي هرچه بيشتر امكانات اقتصادي وامكانات نظامي كه مجاهدين از روس ها ودست نشاندگان آن به غنيمت گرفته بودند گرديدند وتاحال آنقدر اسلحه ومهمات نظامي درافغانستان درهمين جنگ هاي تحميلي ازجانب ائتلافيون ، ازهر دوطرف درگير به مصرف رسيده است كه اگراين مقداراسلحه تلف نمي شد به گمان غالب افغانستان باداشتن سلاح هاي پيشرفته درمنطقه ازنيرومندترين كشوري بحساب ميآمد، ولي بدبختانه كه استعماردراين هدف خويش نيز كامياب شد وتوانايي نظامي مارانيز به انحلال سوق داد .

استعمارگران ازهمه اين تلاش ها بااستخدام اجيرانش اين آرزورادارد تاازقيام حكومت اسلامي درافغانستان جلوگيري كند ونگذارد مجاهدين به قدرت برسند كه دراين مدت دوسال و ده ماه تقريباً دراين هدف شان موفق بوده اند. اما ثبات وپايمردي مجاهدين درمبارزه عليه ائتلاف وپيروزي حتمي وقريب الوقوع آنهااستعماررادوباره وارخطا ساخت واين بارباممهارت بيشتر ازگذشته وتوطئه هاي جديد ترازسابق وارد عمل شد .

اما استعمار گران اكنون به مراتب ازگذشته چانس هرنوع كاروايي راعليه مجاهدين دارند به اين معني كه دردوسال ونه ماه حاكميت مجاهدغاهاي ائتلاف وايجاد شرايط اختناق درنتيجه اعمال نارواي تفنگداران ائتلاف دردادن تاثر منفي عليه مجاهدين برمردم ماموفق شده اند وهم چنان بااشتعال ودوامدارساختن جنگ ها قوت رزمي

وامكانات نظامي را نيز تاحدي تقليل بخشيده اند وآنهااكنون نتيجه گرفته اند كه ميتوانند قسمت هاي باقي مانده نقشه هاي استعماري شان را دررابطه به افغانستان ومجاهدين به منصه اجرا قراردهند .

بعدازدوسال ونه ماه مبارزه مجاهدين عليه ائتلاف درشرايطي كه مجاهدين كاملاً درآستانه پيروزي قراردارند وسقوط ائتلاف حتمي به نظرميخورد واستعمارگران به اين نتيجه رسيدند كه اجيران. دسته اول شان (ائتلاف). ازصحنه معدوم شدني است ، متوازي باتلاش هاي مرموز واسرار آميزپروسه صلح سازمان ملل متحد تحت رياست مستيري اجيران دسته دوم شان راكه مدت ها قبل روي سازمان دهي واكمال وتجهيز نظامي ومالي آنهاكارشده است ازسمت جنوب غرب تحت نام وعنوان به اصطلاح طالب ها وارد صحنه ساختند وميخواهند اين باربااستخدام وبقدرت رساندن اين نيروي مزدور از اقامه حكومت مجاهدين جلوگيري كنند .

اين دسته مزدور وجيره خواركه درظاهرامرخودرا نيروي صلح پسندوتامين كننده امنيت به مردم معرفي نموده وازاسم وعنوان مقدس طالب وملا استفاده سوء ميكنند نيروي اجيري اند كه بدستورييگانگان بجاي خاموش ساختن آتش جنگ، امنيت مناطق ديگري راكه تاحال ازشروآفات جنگ ها درامان مانده بودند برهم زدند وباعث خون ريزي وويراني مزيد ديگر گرديدند كه اين امركاملاً خلاف آنچه كه ادعا دارند ميباشد وبااين كارشان جنگ رابجاي اينكه خاموش سازند هنوزهم دامن ميزنند .

تاجائيكه برهسته گذاري سازمان دهي، تمويل وسوق اين نيروبه يك جنگ تمام عيار عليه مجاهدين تعلق دارد ، اين نيروي مزدور درحقيقت زاده كارهمان كميته نظامي جلسات كويته است كه گاه گاهي بنام اردوي بيطرف تحت سرپرستي سازمان ملل ازآن يادمي شد ولي اين اردوي مزدورنه بيطرف بود ونه هم امت بلكه نيرويي است درخدمت دشمنان جهاد كه تمويل وپرداخت مصارف هنگفت آن بدوش نيروهاي بيگانه واسلام دشمن است كه نمي خواهند درافغانستان مجاهدين به قدرت برسند وحكومت منتخب اسلامي كه آرزوي فردفرد هموطنان ماست تشكيل گردد.

پيشروي هاي اين عناصرمزدوربه معني محبوبيت آنها دربين مردم نيست بلكه حقيقت موضوع اينست كه درنتيجه وحشت وبربريت تفنگداران ائتلاف وادامه جنگ تحميلي ازجانب ائتلاف مردم ماازوضع جاري به ستوه آمده اندومنتظرحركتي اند تااوضاع رابجاي ناامني وبي ثباتي به سوي ثبات وامنيت سوق بدهد وبه همين جهت مردم مااكنون باپي بردن به ماهيت اصلي آنهابيزاري كامل خودرا ازآنها اعلان ميدارندوان شاء الله درآينده نه چندان دورمناطقي راكه باافسونگري ، حيله وتوطئه هاي ناجوانمردانه بدست آورده اند ازدست خواهند داد زيرا اين گروه مزدورتحت نام وعنوان نيروي محافظ صلح وتامين كننده امنيت عملاً باعث بسي امنيتي وجنگ مزيد دركشورگرديدند وحقيقت ديگري كه بايد به ارتباط اين گروه گفته شود اينكه افراد وپرسونل جنگي آنهارابيشتر وزيادترهمان كمونست هاي شكست خورده وباقي مانده ازرژيم كمونستي نجيب تشكيل ميدهند كه درگذشته دراردوي نجيب كارميكردند واكنون بااستفاده ازاين حركت خودراچه ازلحاظ سياسي وچه ازلحاظ نظامي سازمان دهي كرده اند وميخواهند مانند كمونست هاي تاجكستان ازمجاهدين انتقام بگيرند ودوباره بقدرت برسند ولي براي نيل به اين هدف بااستفاده ازتجارب گذشته ازحيثيت روحاني علماوطالب ها استفاده سوء كرده اند وميخواهند بامجاهدين ازراهي مقابله كنندكه مورد پسند مردم باشد وبه همين خاطراين بارخودرا درشكل وصورت طالب

نموداركرده اند وبكتعداد طالب هاي مجاهدوپاك دل رانيز غوافكري وذهني نموده دريهلوي خويش قرار داده اند ولي مابه همگان اعلان ميداريم كه ان شاء الله درآينده بسيارزودماهيت اصلي اين دسته مزدور افشاء ترخواهد شدولي وظيفه ومسئوليت جدي طالب ها وعلماي ماست كه دردفع وطرد اين توطئه باقوت كامل وارد عمل شده تادراسرع وقت جلواين توطئه گرفته شود ورنه خطرات جبران ناپذيري رابراي همه ملت ماوهمه مجاهدين وانقلاب اسلامي ما درقبال دارد كه تلافي آن ممكن نخواهد بود. زيرا استعمارگران ونيروهاي اسلام دشمن به سطح بين المللي درامرجلوگيري ازتاسيس حكومت اسلامي باهم متحد ومتفق اندوروي صحنه آوردن اين دسته ازنوكران شان بعداز نوكران قبلي شان يعني ائتلافي هابه منظور جلوگيري ازپيروزي ورسيدن مجاهدين به قدرت است واين خواست وآرزوي استعمار ازهمه نوكران ومزدوران شان است كه ازتاسيس حكومت اسلامي درافغانستان جلوگيري كنند وزمينه راطوري عيارسازند كه مردم ازمجاهدين نفرت كنند وكاملاً به مسلط شدن جيره خواران غرب راضي شوند ونتايج جهاد چهارده ساله ملت مسلمان افغانستان ضايع وتمام تحريك هاي اسلامي ازادامه مبارزه وجهاد مايوس شوند وچنان بپندارندكه سرنوشت وانجام آنهانيز چنين خواهدشد و ابداً براي تاسيس حكومت اسلامي موفق نخواهندشداما استعمارگران ونوكران زرخريدشان اين حقيقت راازيادنبرند كه همان طوريكه انگريزها باحضور مستقيم خود ومسلط ساختن نوكران شان تحت رياست شاه شجاع ، وروس ها همچنان باتجاوز مستقيم برافغانستان وبقدرت رساندن نوكران شان چيزي بدست نياوردند ودرانجام هردوامپراطوري منحل وبه

ص (۷)

«هرجامه سفیدملانیست»

محمد علم علمیار

انقلاب اسلامي افغانستان به اساس حکم الهي ازطرف مجاهدین علیه مکتب مارکسیزم وپیروان آن و کمونیست ها وروسها در افغانستان آغاز یافت.

که آغاز وجریان جهاد به اساس فتوا وشرکت مستقیم علماي جید دیني کشور وموافق به اصول شرع شریف صورت گرفت

اما بعد از سقوط بلاك وارسا امریکا سردمدار یك قطبه جهان تحت عنوان نظام نوین با پرداخت تخصیص بودجه هنگفت علیه نهضت هاي اسلامي ومجاهدین بنام مبارزه علیه تروریزم بلا وقفه دسایس وتوطیه مي چیند.

بدبختانه دروطن عزیز ما هم بعداز سقوط حکومت نجیب با انواع دسایس ،جاردن عمال استعمار درصف وجهره مجاهدین جریانات طوري تحمیل شدکه ستعمارازآن بهره برداري سیاسي نموده وپروگرام هاي خویش را حسب دلخواه اش طورمستمر تطبیق مینماید.

سازمان ملل

ظاهراً درجهت تامین صلح درکشور وقت رابه دراز کشانیده درخفا پروگرام هاي مرموز دنبال مینماید که اثراتش را هموطنان ما چشم سرمیبیند.

مابید گرك راچوپان گیریم وبه آن دشمنه وبه سرنوشت قصه دچارشویم که میگوید

گربه خود رادرجامه شیخ زده ودرگوشه نشسته دمو دعا میکرد .موش ها که باورکردند گربه صوفي شده ودیگر کسي را آزار نمي دهد ناعاقبت اندیشانه نزد این شیخ قلابي رفت وآمد میکردند.

تا آنکه زماني تعداد زیاد موش ها بدورش جمع شدند . مذکور طورناگهاني به یکبارگي جست زده همه موش ها را درچنگال آورده بلعید .

درین اواخر گروه موسم به طالبان در وطن بروز کرده مذبوحانه درتلاش سقوط مجاهدین اند.

اگر واقعاً آنها طالب العلم اند به موارد ذیل چه جواب ارائه مینمایند.

۱ - این کتله نظامي درجریان جهاد درکجا بود ؟ که درادای جهاد وفریضه الهي سهم میگرفتند.

۲ - علما وطلباي دیني درصفوف مجاهدین تنظیم بودند وجهاد در روشنایي ارشادات آنها تا این حد رسید وخودمجاهدت میکردند در حالیکه این آقایون مجاهدین راتردید ،محکوم وخلع سلاح مینمایند چرا ؟

۳ - چرا ؟ آمریت این طلاب تماما روشن نبوده ویکي ازعلماي معلوم الحال در راس آنها قرارندارد ورهبریت مجاهدین را که هویت ثابت وشرعي دارند درجریان کار وپروگرام خود نمي گذارند .

٤ - درزمان محدود ٤ ماه اخیر این کتله بزرگ تریننگ یافته وآشنابه امور تاکتیکي و تخنیکي انواع سلاحهاي مدرن وپاپیشرفت هاي سریع عملیاتي از کجا بوجود آمد ؟

٥ - طلاب واقعي دیني که درمدارس طور پراگنده معروف تحصیلات خویش اند ودرحال فقر زندگي دارند این نظام سازوبرگ کلدار ودالر وامکانات نظامي غیرمحدود را ازکجا بدست آوردند ؟

٦ - طالب العلم چه که حتي یك مسلمان عادي از مخالفت وجنگ بامجاهد امتناع مینماید .

اما این دسته طلباي قلابي با مجاهدینکه هویت جهادي شان تثبیت وخدمت شان درجهاد في سبیل الله واضح است بیشرمانه مي جنگند وبه قتل میرسانند.

اگر این دسته اجیران خارجي ادعا دارند که بین مجاهدین اختلاف وجنگ است وظیفه دیگر مسلمانان درین مورد آوردن صلح است ،نه جنگ واختلاف که برمشکل مسلمانان بیفزاید.

بلي عدهٔ ازطلبا وعلماي دیني ما نیز شکار فریب این بازي استعمارگردیده است وناآگاهانه علیه برادران مسلمان ومجاهد شان درجنگ استعمال میشوند ولي طراحان این دسیسه ومراکز قوماندة آنان از زوایاي کفري (یهودونصارا) داده میشود.

علماي کرام ، طلاب العلم معظم و پیروان حق .

شما با استفاده از روشنایي علم وتجارب سیاسي انقلاب بادقت توجه کنید که استعمار سیاه کار بازرنگي شیطاني وصرف بودجه هنگفت درجهت سرکوبي انقلاب اسلامي وملت مجاهد ماپیوسته درتلاش است وبه عناوین مختلف درچهره هایي گوناگون ازطرق نامریي دربیکر انقلاب ما رخنه مي کند ودسیسه میسازد .

این بار استعمار بااستفاده از نام وعنوان پاك طالبان دیني این فاجعه جاري درکشور را دنبال میکند ومسلمانان مخلص را بکي بالاي دیگر مي کشد . امکانات مجاهدین را بیجا مصرف مینماید. سلاح هاي مجاهدین راخریداري وجمع آوري مینماید وبه اینگونه . مجاهدین وطلبا را درذهنیتها بدنام ومنفور میسازد ، به این ترتیب فضاي بي اعتمادي درین مسلمانان عقیدوي وفکري بمیان آورده وآنها راتضعیف نموده زمینه را براي ساختار یك حکومت دست نشانده استعمار مساعد نماید تا همانند الجزایر وسایر کشور هاي اسلامي پلان هاي شوم خود را تطبیق نموده، علماي واقعي ،مجاهدین ومسلمانان واقعي را به اتهام تروریست ، دهشت افگن ،بنیادگرا وافراطي بلاوقفه دستگیر ومحکوم بمرگ نماید واز هر مجاهد پرسش بعمل آید که چرا جهاد کردي ومحاکمه شوند .

وبه اینگونه همه دست آورد هاي جهاد به هدر رفته بجاي مدینه فاضله ،زمینه براي تطبیق پروگرام هاي فحاشي وغیراسلامي نظام استعماري به اصطلاح نوین امریکا مساعد میگردد .

رهبران معظم جهادي ،قوماندانان دلیر ،مجاهدین قهرمان ،علماي کرام ،طلباي علوم دیني محترم ، ملت مسلمان : بااستفاده از تجارب انقلاب وبا توجه به سیاست شیطاني دشمنان اسلام بادرایت خاص واحساس مسئولیت انواع دسایس دشمن را دفع وخفه نمایید وباحفظ سنگر و سلاح هاي خود که ناموس جهاد است دربرابر این چهره هاي شیطاني و ایجنت هاي استعمار رزمیده وآنها را عاجل دستگیر وچهره اصلي آنها رابمردم معرفي نموده وبه اینگونه ازوطن ،اسلام وجهاد پاسداري نمائید.

په اسلام کي دښځو حقوق

دوهمه برخه ژباړن خلیل

اسلام ښځو ته له دغه غلامي نه نجات ورکړیدي ، اودخپل فطري کار په میدان کي یعني دکوردانتظام او ماشومانو دپالني په لړکي مکمل آزادي ورکړیدي او پدي کي په پوره سکون دکارکولو فرصت یي ور په برخه کړیدي ، لدي نه پرته اسلام ښځي ته دکورملکه هم ویلي دي خو ددي مطلب دا هم نه دي چي اسلام ښځه دکور په چاردیواري کي مقیداوبنده ساتي ،که څه هم ښه خبره همدا ده چي ښځه باید خپل کور ښه سنبال وساتي اوخپل ټول قوت اواستعداد دکور په جوړولواوسنبالولوکي وقف کړي لیکن دضرورت په وخت کي له کورنه دبیرون وتلو اجازت هم ورته حاصل دي ، ددي ازادي په نتیجه کي ښځي دجهاد میدانونو ته هم ورغلي دي اوهلته نه یوازي داچي مجاهدینوته اوبه ورکړي بلکي ټپیانوته هم مرهم پټي لګولي دي اوبخپله درسول الله صلي الله علیه وسلم دحفاظت فریضه یي هم ترسره کړیده، په لمړنیوادوارو کي صحابیانو دغه کارنامه ترسره کړي اوراتلونکي تاریخ له پاره یي زرین باب قائمه کړیدي . لد ینه پرته اسلام ښځو ته دضرورت په وخت کي ،تجارت ، اقتصاد ټولنیز خدمت دجهاد په میدان کي له سروسره مرسته ،دسیاسي امورو چلولو ،خلیفه گانو ته نیکومشوروورکولواومذهبي دائره کي دیني تعلیم اوتربیت ان چي دفتوي ورکولوآزادي یي هم ورکړیدي ،پدي لړکي د څونومبالو ښځو خدیجة الکبري ،عائشه صدیقه ، حضرت فاطمه ، زهرا ،آسیه ،هاجره ،اودسمیه (رض) نومونه دیادوني وړدي . له دوي نه وروستي دورکي رابعه بصري ، دخلیفه عمربن عبدالعزیز ښځه دیادوني وړ ده .

۲ - دمساوات حق -

دښځواوسړوترمنځ دمساوات کوم تعریف چي ځینو خلکو په ټولنه کي مسلط کړیدي ددي اصلاح هم ضرورت دي .

ددغه مساوات تصور عجیب اوغریب دي او دامطلب ترینه آخستي شي چي سړو اوښځو ته دي داختلاط یوشانته آزادانه فرصت حاصل وي ، بي پردگي اوسترمیښله دي نه وي بلکي ښځي اوسړي دواړه دي د فطري ، جسماني اودماغي صلاحیتونو له فرق نه پرته یو ډول کارونه ترسره کړي . دسړو په شان روزي هم وګټي اودښځي په شان خپل ماشوم هم وپالي حال داچي دا دواړه کارونه دښځي له پاره ډیر سخت دي اوزیاتره وخت دخپل ماشوم له ژوند نه لاس وینځي -یوه ښځه چي له کورنه بیرون نوکري کوي اوخپل ماشوم یي کودکستان کي پریښي وي له کار نه دواپسي په صورت کي گوري چي څوي

بي کمپل لاندي د ساه دبندیدو په وجه مرشوي ؤ. قرآن کریم مومن سړي اومومني ښځي دواړه یودبل اولیا بنودلي دي چي مطلب اومعني یي یو دبل دوست ، محافظ اومعاون دي ، په اسلام کي دنر اوښځي ترمنځ تعلق دغلام اوبادار په شکل کي نه بلکي یو دبل ملگري اومعاون په ډول دي.

ددي آیت مفهوم اومطلب دادي چي نر اوښځي دواړه دټولني داصلاح ،سیاسي تعلیمي اواقتصادي پرمختیا اوودي له پاره مسئول دي اوباید دواړه پخپلو فطري دایرو کي دننه ټول هغه کارونه ترسره کړي چي الله پاك دکوم مقصد له پاره یي تخلیق کړیدي دبوي ښځي فطري دایره په کورکي دننه د ماشومانوساتنه په اسلامي طریقو دهغو پالنه اودکور له کارونو څخه دنر انو وزگارول دي ، دښځي له پاره اصل سنگراوداتره دهغي کور دي چي باید دخپل کوراصلاح اوتعمیر همداراز دماشومانو په اسلامي طریقه پالنه اوددین ابتدایي تعلیم اواسلامي لاري وربنودل دي.

دلمړني دور یوغوره مثال دحدیبي په ځاي کي دمسلمانانو دمور ام سلمه بهترین کردار اوله پوهي نه ډکه مشوره ده . چي صلح حدیبه کي داصحابو کرامو له جذباتو ، غم او پریشاني نه هرڅوك خبردي.

کله چي رسول الله صلي الله علیه وسلم اصحابو کراموته دخپلو خپلو مالونو د قرباني کولو حکم وکړ نو دغم ، پریشاني اوخپگان په وجه دحکم په تعمیل باندي څه تاخیر راغي اورسول الله صلي الله علیه وسلم لږ غوندي پریشان شو ،پدي وخت کي ام سلمه رضي الله عنها رسول الله صلي الله علیه وسلم ته دقدر وړ مشوره ورکړه او ورته وویل چي تاسي خپل مال حلال کړي ترڅو اصحاب کرام ستاپه لیدو سره ستا پرحکم عمل وکړي ، رسول الله صلي الله علیه وسلم همداسي وکړاو پدي ترتیب اصحابو هم خپل مالونه حلال کړل.

حضرت ام سلمه رضي الله عنها پدي مشوره د نبي کریم صلي الله علیه وسلم له حکم نه دنافرماني صورت اوشکل ختم کړ . لدي نه داخبره ثابته

شوه چي اسلام ښځو ته هم په مهمو کارونو کي دمشوري ورکولو حق ورکوي .

دراېي دښکاره کولو حق :

دخپلو احساساتو اوخیالاتو دښکاره کولو په شکل کي انسان له نوروومخلوقاتو څخه ممیز اوجدادي هرمومن نر او ښځه دخپلي رایي دښکاره کولو نه یوازي داچي حق لري بلکه بنیادي او پیدایشي حق یي هم دي اواسلام له نن نه څوارلس سوه کاله مخکي ورته داحق ورکړیدي ، اسلام ښځوته نه یوازي دمملکت په امورو کي د خپلو رایو دښکاره کولو حق ورکړیدي بلکي دتائید اونه تائید دواړه قسمه آراء دښکاره کولو حوصله یي هم ورته بخښلي ده.

د نبي کریم صلي الله علیه وسلم په زمانه کي مسلمانو ښځو له محمد صلي الله علیه وسلم سره په بحثونوکي برخه آخسته او په ځینو وختونو کي به ترینه دخپلورایو دښکاره کولو غوښتنه کوله په خاصه توگه له ورقه بنت عبدالله سره به یي په مختلفو کارونو کي مشوره کوله ، رسول الله صلي الله علیه وسلم دخپلو بي بیانو مشورو ته هم د درنښت په سترگه کتل ، وښځو ته هم له رسول الله صلي الله علیه وسلم سره دسوال ځواب کولو حق حاصل و، یوځلي یوه وینځه له خپل خاوند نه جدا شوه ، رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته وفرمایل تاسي بیرته د خپل خاوند کور ته لاړشي.

هغي له رسول الله صلي الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه یارسول الله داستاسي حکم دي ؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل نه حکم خو نه دي خو شفاعت ضروردي ، هغي وویل که حکم نه وي نو زه د خپل خاوندکورته تلو ته تیارنه یم ، اوس پوښتنه راپیداکیږي چي آیا په بل کوم مذهب یا ټولنه کي یوه وینځه ددي جرائت کولي شي چي دخپل حکمران په وړاندي په دومره آزادي سره خپله رایه ښکاره کړي .

یوځلي بوي ښځي د وخت حکمران اودااسلامي ریاست سرپراه امیرالمؤمنین حضرت عمر رضي الله عنه یي دلاري په سرودراو اودکوم کارپه باب یي ترینه

بوښتني وکړي .خلیفه دهغي خبري په پوره توجه واوریدلي اوترهغه ورسره ولاړ ؤ ترڅو چي ښځي خپلي خبري نه وي ختمي کړي .

یوځل حضرت عمررضي الله عنه غوښتل چي دمهر اندازه مقرره کړي یوي بوډي ښځي ورته وویل اي عمر ! که حضرت محمد صلي الله علیه وسلم دمهر اندازه نده ټاکلي ته یي څنگه ټاکلي شي ؟ حضرت عمر ته دبوډي ښځي رایه ډیره وزني معلومه شوه او له خپلي خبري نه واوښت اوورته وویل چي ستاخبره صحیح ده .

کوم وخت چي ددنیا ډیروقومونو ښځي دمذهب له پاره خطرگڼلي په هغه وخت کي هم مسلمانو ښځو ددین مطالعه پرهغه عمل اونوروته درسولوفریضه اداکول ، دمومنانو مورحضرت عائشه رضي الله عنها له خپلي حجري نه د پردي له شانه دقرآن کریم درس ، فقهي اونوردیني مسایل خلکوته وربنودل . دا به مبالغه نه وي چي ددین دریمه یاڅلورمه حصه دحضرت عائشه (رض) په ذریعه خلکوته رسیدلي ده . داحادیثو په صحیحو کتابونو کي له حضرت عائشي نه روایت شوي چي د صحیو احادیثو شمیر له دوزرونه زیات دي.

په اسلام کي دښځي له پاره دخپل حق اورایي د اظهار ولوتصدیق لدي نه هم کیداي شي چي قرآن کریم دیوي ښځي مقدمه چي دخپل خاوند په خلاف د خداي (ج) درسول په وړاندي دائره کړي وه همیش له پاره ثبت کړیده، کلهچي حضرت خوله بنت ثعلبه رضي الله عنها ته دهغه خاوند دجاهلیت په قانون دظهار اعلان وکړاوله خپلي ذوجیت نه یي وویستله،بیا هغي ددي قانون پهځساس نه یل خاوند کولي شو نه یي کور پرېښودي شو اونه یي له خپل خاوند نه مالي کومك آخستي شو. حضرت خوله ددي غلط قانون په خلاف په پوره جرئت سره احتجاج وکړ اوالله تعالي دهغه فریاد پخپل کلام قرآن کریم کي پدي الفاظو ثبت کړ. ترجمه الله تعالي دهغه ښځي خبري آوریدلي دي چي دخپل خاوند په باب یي له تاسره تکراروي اوالله ته فریاد کوي ، الله ستاسي دواړو خبري آوري هغه آوریدونکي اوعالم دي .

تاسي پخپله اندازه ولگوي چي الله پاك دیوي مومني ښځي فریاد واورید او پخپله مهرباني یي دظهار جاهلي قانون یي منسوخ کړ اوترقیامته پوري یي دښځو خانداني ژوند له تباهي نه وژغوره .

نوربیا

مدینه منوره

برادرشما رحمت الله «حبیب»

دحزب اسلامي مومنومجاهدینو ته

دشهادت اخباردرنواوقدرمنوکارکوونکو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

گرانواومحترمو وروټوزه ددي خط ترلیکلو پوري روغ اوجوړیم اوستاسي دټولو دشهادت اخبارکارکوونکوروغتیا له لوي خداي څخه دهمیش لپاره غواړم هیله ده چي به روغ اوجوړیاست بعدزمایه نټول افغانستان کي اوخصوصاً دوردکوپه ولایت کي دحزب اسلامي دمومنو مجاهدینوڅخه داغواړم چي دطالبانوپه نامه چي کوم ټولگي پیداشوي ددي ټولگي قوماندة دپاکستان اوامریکا لخواترسره کیږي

اودغلامي زنځیري دمحمدنبي په غاړه کي پروت اودمحترم «حکمتیار» صاحب خبره چي اصلاً خپلو کاردصلحي ترنامه لاندي پټ په زیرزمیني کي روان دي نوزه دحزب اسلامي دټولو مجاهدینواو خصوصاً دوردکوپه ولایت کي دحزب اسلامي معروف قوماندان ډگرجنرال امان الله «خوږمن» نه داغوښتنه کوم چي ښه په ترتوب سره ددي ټولگي مقابله وکړي اودا اخري چانس له لاسه ورنکړي دحکمتیارصاحب هغه خبره چي افغانستان اوس داسي حیثیت لري لکه درسیدلي فصل چي کله فصل ورسیږي زمینداروچي دبرکوشونه کړي وي اودافصل اوروانځلي که چیرته داور زورمرکړي شي خوڅه ناڅه فصل به لاس ته راوړي اوکنه نو دادبوکال خواري به یي تولنه خرابه شي .

افغانستان هم دپنځلس کاله جهاد په نتیجه کي داسي مرحلي ته رسیدلي که به دي وخت کي تاسولرهم یي همتي وکړه نو افغانستان به خراب اوراتلونکي به یي ډیر خطرناکه وي وسلام قاري هدایت الله همتیار

سرگرداني مردم درولايت هرات

بیشترمنازل ودکانهاي مردم که درعالم هجرت هستند باواسطه ورشوه اسنادآن ازبین برده شده است وبه اسم کس دیگري شده است که این یك جنایت ملي بوده وخیانت ودزدي علني ازاموال مردم ماميباشد.

اشخاصیکه به هرات عودت میکنند منازل آنهاپافروخته شده است ویاهم غصب گردیده است ورروزانه مردم مابدون آنکه جرمي مرتکب شده باشند براي گرفتن منازل خود سرگردان محاکم وشاروالي هاهستندویك تعداد اشخاص خودسر وزورگو منازل ودوکانهاي اشخاصي راکه سند ملکیت به دست دارند تصرف نموده اند .

ما ازاداره انقلابي تقاضاداریم که به این دعواجلبي ها درهرات خاتمه بدهند واشخاصیکه سندملکیت وباشواهدي دارند بدون عرض وسرگرداني به صورت فوري ملکیت هاي آنهادراختیارمالکین اصلي آن قرارداده شود تامردم ازسرگرداني بي موجب ورشوه دادن رهائي حاصل نمایند وقراردادها وخریدوفروش هاي تقلبي که درغیاب مالکین صورت گرفته است فسخ گردیده ومرتکبین آن به جزاي اعمال خود برسند زیرا عنقریب مهاجرین مابه کشورعودت خواهندکرد وقبل ازرفتن مهاجرین قوانین مؤقت ومتحد المالي پاس گردد تاکه دکانها ومنازل آنها ازطرف یك مشت مفت خورتخلیه گردد وبه دسترس مالکین واقعي آن قرارداده شود .

بااحترام محمد عظیم مهاجرافغان ازدهلي

درامور عمراني باید توجه شود

سلام واحترام خدمت برادران مجاهد تقدیم میکنم .

باوجود امنیت نسبي وضع دراکثر این ولایات قناعت بخش نبوده درراه بهبود وضع زندگي مردم گامهاي برداشته نشده است درولایت ننگرهار مدت هاست که اکثر دفاتردولتي ترمیم نگردیده ، سرك عمومي جلال آباد-تورخم درچندین نقطه خراب گردیده وباعث اذیت عابرین میگردد .

درولایت هرات ملیاردها افغاني درپروژهٔ بندسلمي مصرف گردیدکه بعداز آمدن کمونست ها کارآن معطل گردیده وتاحالا توجه به آن نگردیده است وقراربوده است که این پروژهٔ برق تمام منطقهٔ غرب کشوررا تأمین نماید اماشخص امیر صاحب هرات وچندنفر مخصوص ازافراد شان ازاین هست برخورداربوده ودرتماماً شهربرق وجود ندارد وابن کمال بي ارزه گي مامورین این ولایت است که باکشورهاي هم سرحدهستند که باکوچك ترین سیاست درست این ولایت ازبرق وگازباید بهرمندگردد .

شمال هاي ۱۲۰ روزه این شهرتاریخي برده ومردم بي نهایت ازدست کثافات وخاك به تکلیف هستند ودرزمان سي سال قبل هم به یاددارم که شاروالي هرات موترهاي آب پاش داشت ورروزچند مراتبه شهرآب پاشي میگردید اماشخصي بنام یحیي سیوشاني که سواد درست نداشته ویك شخص قمارباز وحریف سرسخت امیرصاحب است رئیس شاروالي میباشد وهمین که نامبرده، ازمقامش برطرف گردیده است مثل حق پدري وچوکي اجدادي خود به صحرارفته واسلحه گرفته است ومجبوراً این آدم بي تجربه مرتبهٔ دوم به کارگماشته شده است وفقط دربدل رشوه منازل ودوکانها رااسناد جعلي ترتیب نموده وبه مردم میدهد ودراموربلدیه معلوماتي ندارد کتابخانهٔ هرات که مرکز تمدن وفرهنگ کشورمیباشد ودوصحنه تمثیلي همه آن تعطیل است همین طورولایت قندهارکه مانند کمون اولیه مردم را درچهاراهي ها غرغره نموده واسم آنرا امنیت میگذارند این مزدوران طالب تما به کارهاي متوصل مي شوند که خلاف اسلام است وازاعمال اینهامعلوم میگرددکه اله دست اجانب اند .

خداکند جهت عمران وآبادي کشور هرچه زودتر مقام هاي دولتي را که یك تعداد مردم حق پدري خود میدانند تخلیه نمایند تا مردمان باتجربه وشکم سیر به جاي آنها مقررگردد ومردم مااززشرنادادي این وارثین نجات پیداکنند . من الله توفیق

محمد عظیم مهاجر

گران وروور عصمت الله بشري !

سلامونوته موورعلیکم السلام وایوهیله ده چي زموږسلامونه هم ومني دودکبارفروش» ترعنوان لاندي شعرمواورسید، متاسف یوچي دځینونیمگړتیاوولـه امله مونشوکړاي چي نشرته یي وسپارو، هیله ده چي خپه کیږي به نه . امیددي چي خپلي همکاري ته دوام ورکړي .

محترم وروورقاري هدایت الله «همتیار» !

متقابلاً زموږسلامونه هم ومني .

ستاسي لیك موږته راورسید. موږستاسي له نظرسره کاملاً توافق لرو خوددپریدوپه هکله یي باید ووایوچي نشرول زموږ دنشراتي پالیسي سره ارخ نه لګوي، موږکوښي ستوږږي ډیري لرو هیله من یوچي دکورنیو پیښوپه هکله له موږسره رابطه ولري . ستاسي دلازیاتي همکاري په هیله .

(اداره)

دوه کرښي ځواب

ښاغلي محمدداود(عزیزي)

له سلامونوسره یوځاي له درده ولك لیکلي لیك دي راورسید هغه موترپایه ولوست ووروه ! ستادزړه درد اوښکین له پاره دالاندي دوه کرښي کافي بولو چي وایي : که یي په خپل بارکي وفاواي – زه به دبل په درکي ولي گرزیدمه . اوبل داچي وایي (که ماوربښتي نه به وتښتي)

هیله ده چي خپله قلمي رابطه به راسره جاري وساتي ستاسي دهمکاري په هیله . په درنښت

اداره

دسوال اوځواب شعرونه

ښاغلي (ا - عزیزا)

دسلامونوسره یوځاي دوه ټوټي شعرچي په دوه پاڼو(صفحوکي موبوه(زه خومسلمان یم دمړیي په سترگه مه گوره) اوبل مرا دمجاهدپه ځواب کي صاحب واي) ترسرلیك لاندي لیکلي راورسیدل دواړه اشعارموترپایه ولوستل داچي شعرونه موځیني شعري خامي اوهم دمفهوم له پلوه یوڅه نیمگړتیاوي لري اوبل داچي ډیریات اوږده دي نوډهري بري ټوټي څخه موروته دوه دوه بیتونه نشرته وسپارل چي تاسي اونوروگران لوستونکي به یي ولولي .

باره مسلمان یم کـــــراوونه مي گالـــــي دي

جهاداوانقلاب کـــــي لوږي تندي مي لیـــــدلي دي

له کفر اوکمونست نه ډیري سترغي مي اوریدلي دي

په لاره دااســـــلام کـــــي مي پرونه قبول کړي دي

**

پوهیږم مسلمان یي خوزمایه پارت کـــــي ته یي له

ښه توب به دي زه څه کرم چي زماقربان کي نه یي له

نه یکس راسره الخلي له اخلاص شي کرو دروکـــي نه

نوڅکه دمړیي په سترگه گورم چي زمایه خیال کي نه یي له

عرض تبریک

شوراي نمایندگي حزب اسلامي مقیم مدینة منوره بهترین تبریکات وتمنیات خودرابه مناسبت حلول ماه مبارك رمضان به برادرمجاهد ومحترم حکمتیارصاحب امیر حزب اسلامي وتمام اعضاء واراکین حزب اسلامي وکافهٔ برادران مسلمان افغانستان وجهان تقدیم میدارد .

ودرین ماه مبارك به تمام مجاهدینکه بخاطر اعلاي کلمة الله واقامهٔ دولت اسلامي مصروف جهاد ومبارزه اند ، ازبارگاه رب العزت والجلال موفقیت هاي مزید مستدعي است .

به امید تاسیس دولت منتخب اسلامي درافغانستان

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

به نمایندگي اعضاي شوراي حزب اسلامي مقیم

خپلواکي گټل گران ، خوساتل یي له هغه گران دي

س . ق . قندوزي

کوم وخت چي انگریزانوپرافغانستان دلومړي ځل لپاره یرغل وکړ هغه وخت هم انگریزانو دخپلي امپراتوري اواستعماري نقشو دتطبیق په خاطر په افغانستان کي خپل گوډاگیان دروسانویه څیر روزلي وو، چي په نتیجه کي دخپلو بریځو اوتالي څڅوبه نغوته یي دافغانانوپه خاوره تیري اوتجاوزوکړ، افغانانو چي هیڅکله دکفارو اوپردیو داسارت لاندي ژوندته غاړه نده ایښي نو هغه وخت هم ټول افغانان پرته له کوم تبعیض ، سمت ، ملیت که څه هم پښتون وکه تاجك، ازبك وکه ترکمن ، پانورستاني ، پشه یي ټولو په یوآوازداسلام ترسیبڅلي ربي لاندي دایمان اوافغاني غرورتر جذباتوتاثیرلاندي دپرنگیانو دمقابلي لپاره پاڅون اعلان اودسربازي ډگرته وړاندي شول . مسلمانو افغانانو دخپلوپاکو وینو په نذرانه کولو سره غربي استعمارته دسرپه کاسه کي اوبه ورکړي اودتښتي لاربي تري ورکه کړه ، انگریزي استعمارچي دافغانانو دقرباني، شهامت، شجاعت سرښندنه ولیده پوه شول چي داغیرتي او ایمان دار قوم دکفري ښکیلاك دغلامي کړي په غاړه نشي وړلي نوراضي شول چي دگندومك دټرون اوداسي نورویي اتره ناستوولاړو په نامه ځانته داورپوزه جوړه اودافغانستان څخه یي خپلي ناولي پښي سپکي کړي . پرنگیان چي دمومنو غازیانودڅپونکو گوزارونو لاندي راغلي وو، انگلیسي کیوناري دغازي وزیر محمداکبرخان دگولي خوراك اونورډیر انگلیسان په جلا جلا

توگه په رازرازډگرونوکي دغازي محمد جان خان، ملامشکه عالم ، میرمسجدي خان ، محمدیواب خان دضرباتو ښکاراوډاکټوبرایدین یي په ټیښته بریالي شو، اوافغانستان یي درسواماتي وروسته خپلو اصلي وارثینوته پریښود. مگر انگریزانو چي دافغانانو له لاسه دټري په سیالوملکونوکي دسرټیټي ،کاري زخم خوړلي وتودغیج اخستو اوداستعماري خصلت له مخي په ارام نه شول دبیا حملي په تکل کي پریوتل غوښتل یي چي افغانان درازراز پلمواوپوندوتو، ډالرو په دام کي گیر اوخپل شوم پلان دشاه شجاع غوندي څیرو کي عملي اوخپل هدف ترلاسه کړي . خو څرنگه چي افغان غازیانو دبیگانه خلکوپل په خپل ملك کي دځان لپاره ستر عیب اوننگ گاڼه پخپل ملت ، دین اووطن باندي په رښتیني مینان وونه په ډالرو، اوپوندو نو، بلکي دانگریزي استعمارحرکات اوکرنلاره یي گرېږ په گرېږ ترڅارني لاندي درلودله اوبه دي ښه پوه وو چي پرنگیان په هروخت اوهره حیله یي چي له لاسه وشي افغانان بیاښکیلول غواړي پدي خاطر افغان مسلمان قوم په دي هم پوهیدلو چي استقلال گټل که گران دي سرښندنه غواړي خوساتل یي ترگټلو گران کاردي شپه او ورځ به دیووفادار سپاهي په توگه دخاوري اوملت دحفاظت اوهوسایي لپاره ملاترلي ولاړاوتاریخي بدنامیو څخه یي کرکه درلوده په لومړي درجه احضاراتوکي وینس ، هوشیار لاس په ماشه دتیارسي

